


ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اباډي اوونیزه

هفته نامه آبادی

ګڼه: ۴۴ | مسلسل نمبر: ۱۳۴ | پنجشنبه، شعبان المعظم ۲۴مه، ۱۴۴۷هـ. ق کال


## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند؛ تاریخ ګواه دی چې افغانستان غوړه ګوله نه بلکې د زقوم ونه ده



۲ صفحه

## بهرنیو پانګوالو ته په افغانستان کې د پانګونې په مقابل کې د اقامو پر ورکړه بحث وشو



۳مه صفحه

## د کرنې او مالدارۍ سکتور د پراختیا ملي پالیسي او د کبانو روزنې سکتور د پراختیا طرحه تایید شوه



۳مه صفحه




د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون نوبتي غونډه چې د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د سلواغې میاشتې په ۱۸مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوې وه، بهرنیو پانګوالو ته په افغانستان کې د پانګونې په مقابل کې له یو تر لسو کلونو پورې د افغانستان د اقامې د ورکړې موضوع د بحث لپاره وړاندې شوه. له بحث وروسته موضوع تایید او په دې اړه ټاکل شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو د پانګونې مقدار ته په کتو د اقامې د ورکړې وخت په کټه‌ګوریو ووېشي او د موضوع د ټولو اړخونو په پام کې نیولو سره خپل راپور د اقتصادي کمېسیون راتلونکي مجلس ته وړاندې کړي. د افغانستان اقتصاد په وروستیو شاوخوا څلورو لسیزو کې د اشغال او جګړو، سیاسي او امنیتي بې ثباتۍ او دغه راز په هېواد کې د رامنځته شوې وچکالۍ له امله سخت زیان لیدلی. هېواد مو په دې موده کې له سترو بدلونونو، ناخوالو، نیواک او ګډوډیو سره مخامخ و، ددې ستونزو په څوا کې یوه ستره ستونزه دا هم وه چې په هېواد کې د پانګونې له پاره زمینه برابره نه وه او دې چارې پر اقتصاد ناوړه اغېزه ښندلې وه. که چېرې د پانګونې په ځانګړې ډول بهرنۍ پانګونې د جذب لپاره زمینه برابره شوې وای، نو زموږ اقتصاد به دومره کمزورۍ نه و. خو د اسلامي امارت په راتګ سره له دې چې افغانستان له بېلا بېلو ستونزو له هغې جملې د نړیوالې ټولنې له لورې د بندیزونو وضع کېدو، د امریکا له لورې د افغانستان د شتمنۍ کنګل کېدو او پر بانکي سیستم د محدودیتونو وضع کېدو سره سره پر دې وتوانېد چې د اقتصاد د پرمختګ او په ځانګړې ډول د بهرنۍ پانګونې د جلب او جذب په برخه کې د پام وړ لاسته راوړنې ولري او په دې برخه کې یې غوښ ګامونه پورته کړي دي. تر دې مهاله بېلا بېلو هېوادونو او ګڼو بهرنیو کمپنیو په مختلفو زیربنایي، خدماتي او ټولګټو برخو کې د پانګونې له پاره لېوالتیا ښودلې ده چې یو شمېر یې عملاً کار پیل کړی دی. پر دې سربېره د دولتونو په کچه د بهرنۍ پانګونې د جذب او اقتصادي همکاریو په اړه هلې ځلې ترسره شوې دي. ددې هلو ځلو په برخه کې وروستۍ ګام چې پورته شو او په دې سره کولای شو چې بهرنۍ پانګونه راجلب او جذب کړو، هغه بهرنیو پانګوالو ته په هېواد کې د پانګونې په مقابل کې د اقامې ورکړه ده. د دې اقدام په ترسره کېدو سره به موږ وکولای شو، په زیاته کچه پانګونه را جلب کړو. د پانګونې او هغه هم د بهرنۍ پانګونې په جلب او جذب سره به پر دې وتوانیږو چې زیربنایي پروژې عملي، طبیعي زېرمې استخراج، صنعت پیاوړی، کرنه میکانیزه او نور سکتورونه پر خپلو پښو ودرو. له دې سره به بیا موږ په رښتیا هم د یوه پیاوړي اقتصاد څښتنان او هېواد به مو پرمختللی وي.

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند؛ تاریخ ګواه دی چې افغانستان غوړه ګوله نه بلکې د زقوم ونه ده

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د مرغومي مياشتې په ۱۹مه نېټه د حضرت ابو عبيده بن جراح (رض) د ملي دفاع پوهنتون قوماندانۍ اړوند د حضرت معاذ بن جبل (رض) ملي نظامي اکاډمۍ د اوولسمې دورې په فراغت غونډه کې ګډون وکړ.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د نظامي اکاډمۍ په تربيتي دوره کې د مسلکي زده کړو ترڅنګ د ملي دفاع، ملي حاکميت، ځمکنۍ بشپړتيا او سياسي حاکميت د اهميت په اړه د زده کړو ترلاسه کولو له امله فارغانو ته مبارکي وويله او له هغوی يې وغوښتل، چې دا روحيه او زده کړه د اسلامي او لوړو افغاني ارزښتونو د ساتنې لپاره په عمل کې ثابته او د اسلامي نظام او خاورې له لوېشت لوېشت څخه په کلکه دفاع وکړي. حاجي ملا صاحب د نيتونو پر اصلاح، د تقوا پر اختيارولو او د هېوادوالو پر خيال ساتلو هم ټينګار وکړ.

محترم ملا صاحب وويل، اسلامي امارت د اقتصاد محوره سياست په چوکاټ کې په سيمه ييز او نړيوال مشارکت باور لري او د خپلو اصولو په چوکاټ کې له هر هېواد سره تعامل ته ژمن دی. هغه ټينګار وکړ، چې د اوږدمهاله سياسي او اقتصادي ګټو د خوندي کولو لپاره لازمه ده څو هېوادونه د يو او بل ارزښتونو او حساسو حريمونو ته درناوی ولري. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند پانګوالو ته زيری ورکړ، چې په نږدې ورځو کې به اسلامي امارت کورنيو او بهرنيو پانګوالو ته په نويو سکتورونو کې د پانګونې اندازې ته په کتو له يو تر پنځو کلونو پورې بشپړ مالياتي معافيت اعلان کړي. د هغه په خبره، په دې سره به له يوه لوري نوي سکتورونه پرمختګ وکړي او له بل لوري به د هېواد په اقتصادي وده او خودکفايي کې د پام وړ اغېز ولري. محترم ملا صاحب زياته کړه، د صنعت او سوداګرۍ وزارت ته جدي هدايات شوي چې د کوچني، متوسط او لوی صنعت لپاره د ځمکو د توزيع پروسه ګړندۍ او لازم امکانات ورته برابر کړي.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال همدارز وويل، چې د اسلامي امارت سياست کاذب نه دی او نه افغانستان خپلې پاليسۍ پر هغو نهادونو بناء کړې دي، چې اساس يې اسلامي شريعت دی. هغه زياته کړه: «افغانستان نه چا ته ضرر رسول غواړي او نه يې له چا منې. خو که څوک ناولې ارادې ورته لري، نو بيا خپل پور چا ته نه پرېږدي. تاريخ ګواه دی چې دا هېواد غوړه ګوله نه؛ بلکې د زقوم ونه ده؛ د مُعَمَّرو امپراتوريو مرۍ يې ور ترخې کړې، نو مولود ماشومان به يې هېڅکله هضم نه سي کړای.»

په پای کې محترم ملا صاحب له ټولو هېوادونو وغوښتل چې د اسلامي امارت د ارزښتونو او اصولو په چوکاټ کې دې له افغانستان سره د تعامل هڅه وکړي او هغه انرژي او امکانات چې د يو او بل په تخريب ضايع کېږي، بنه ده چې د يو او بل په ملاتړ او د مشترکو ټکو په پياوړي کولو مصرف شي.



## د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه جوړه شوه

د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د سلواغې مياشتې په ۱۴مه نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې جوړه شوه. غونډې ته د کابل ښار په لومړۍ ناحيه کې د ظاهر شاهي مارکېټ په تړاو د وړاندې شوو طرحو په اړه د ماليې وزارت د ارزوني راپور وړاندې شو. له بحث وروسته ياد راپور د نهايي تصميم په موخه د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت محترم مشرتابه مقام ته راجع شو. همدارنګه دې غونډې ته په مزارشريف ښار کې د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت پر ځمکه د سوداګريز مارکېټ جوړولو په تړاو د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت د ارزوني راپور وړاندې او له بحث وروسته تاييد شو. د دې راپور له مخې به ياده ځمکه د سوداګريز مارکېټ جوړلو په موخه ازادې داوطلبۍ ته وړاندې شي. د پانګونې بين‌الوزارتي کمېټې په دې غونډه کې د موټرسايکل او زرنج لپاره د پليټونو او جواز السير د اخيستلو او تمديد خدمتونو د وړاندې کولو په اړه پر وړاندې شوې طرحه هم بحث وشو. له بحث وروسته پرېکړه وشوه، چې ياد خدمات دې د ترافيکو عمومي رياست په خپله وړاندې کړي او په دې برخه کې وړاندې شوې طرحه رد شوه.

## بهرنيو پانګوالو ته په افغانستان کې د پانګونې په مقابل کې د اقامو پر ورکړه بحث وشو

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسيون نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د سلواغې مياشتې په ۱۸مه نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې جوړه شوه. دې غونډې ته بهرنيو پانګوالو ته په افغانستان کې د پانګونې په مقابل کې يو تر لسو کلونو پورې د افغانستان د اقامې د ورکړې موضوع د بحث لپاره وړاندې شوه. له بحث وروسته موضوع تاييد او په دې اړه ټاکل شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو د پانګونې مقدار ته په کتو د اقامې ورکړې وخت په کټه‌ګوريو ووېشي او د موضوع د ټولو اړخونو په پام کې نيولو سره خپل راپور د اقتصادي کمېسيون راتلونکي مجلس ته وړاندې کړي.



همدارنګه په دې غونډه کې د هېواد په ګمرکونو کې د تير (TIR) عمليې د پيل او پای د پلي کېدو پر موضوع هم بحث وشو. د دې موضوع د هراړخيزې ارزونې په اړه کمېټه وټاکل شوه، څو خپل راپور په ټاکلي وخت اقتصادي کمېسيون ته وړاندې کړي.

همداراز د غونډې په پای کې د لاله او صدف ښارګوټو په اړه ټاکل شوو کمېټو د خپلو ارزونو راپورونه وړاندې کړل. د يادو راپورونو په پام کې نيولو سره له اړوندو ادارو څخه ټاکل شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو د يادو ښارګوټو موضوعات په هراړخيز ډول وڅېړي او راپورونه يې له اقتصادي کمېسيون سره شريک کړي.

## د کرنې او مالدارۍ سکټور د پراختيا ملي پاليسي او د کبانو روزنې سکټور د پراختيا طرحه تاييد شوه

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسيون نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د سلواغې مياشتې په ۲۱مه نېټه په مرمرينه ماڼۍ کې جوړه شوه. غونډې ته د کرنې او مالدارۍ سکټور د پراختيا ملي پاليسي وړاندې او له بحث وروسته تاييد شوه. د کرنې او مالدارۍ سکټور ميکانيزه کول، د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ د څېړنيزو او ترويجي سيستمونو پراختيا، د اوبولګونې سيستمونو مديريت، د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ په برخو کې د پانګونې ملاتړ او باکيفيته کرنيزو او حيواني محصولاتو ته د خلکو لاسرسی د دې پاليسۍ اساسي موخې دي.



همدارنګه په دې غونډه کې د کبانو روزنې سکټور د پراختيا پر طرحه هم بحث ترسره او تاييد شوه. د دې طرحې له مخې به د هېواد په مختلفو سکټورونو کې د خصوصي سکټور د پانګونې له لارې په ۶۵۰۰ هکتاره ځمکه د کبانو د توليد او روزنې ۷۷۰۰ کوچنۍ، متوسط او لوی فارمونه جوړ شي. د دې طرحې په تطبيق سره به په مستقيم ډول ۵۰ زره او په غير مستقيم ډول به ۲۵۰ زره هېوادوالو ته د کار زمينه برابره شي.

همدارنګه د غونډې په پای کې د يوشمېر تعقيبي موضوعاتو راپورونه هم وړاندې شول، چې په اړه يې اړوندو ادارو ته لازمي سپارښتنې وشوې.

يادې پرېکړې د نهايي تصميم په موخه د عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ صاحب حفظه‌الله تعالی دفتر ته واستول شوې.



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اوونیزه آبادي
هفته‌نامه آبادی

# اخبار اقتصادی هفته

## تصویب توافق‌نامه‌ی امکان‌سنجی پروژه راه‌آهن افغان-ترانس

رسانه‌های ازبیکستانی گزارش داده‌اند که این کشور توافق‌نامه ای را با افغانستان و پاکستان برای تهیه مطالعه امکان‌سنجی راه‌آهن افغان-ترانس به تصویب رسانده است. بر پایه‌ی این توافق‌نامه، سه کشور به‌گونه‌ی مشترک مطالعه‌ی امکان‌سنجی بخش نایب‌آباد-خرلاچی این راه‌آهن را انجام خواهند داد. بخشی از گزارش رسانه‌های ازبیکستانی: «اوزبیکستان توافق نامه‌ی جهانی درباره‌ی تهیه‌ی مطالعه امکان‌سنجی برای ساخت بخش راه‌آهن ترانس-افغان از نایب‌آباد تا خرلاچی را تصویب کرد. برپایه‌ی این توافق‌نامه، دو طرف به‌صورت مشترک مطالعه‌ی امکان‌سنجی برای خط جدید راه‌آهنی که نایب‌آباد و خرلاچی را به‌هم متصل می‌کند، تهیه خواهند کرد. این بخش جزوی از پروژه‌ی بزرگ‌تر راه‌آهن ترانس-افغان محسوب می‌شود.» سیدمسعود، آگاه اقتصادی دراین‌باره گفت: «پروژه‌ی افغان-ترانس یکی از پروژه‌های مهم منطقه‌ای است، درکنارپروژه‌ی کاسا-۱۰۰۰، پروژه‌ی تاپی، درحقیقت نمودی ازموقعیت جیواستراتیژیک افغانستان به‌شمار می‌رود، آسیایی‌مرکزی را با آسیایی‌جنوبی وصل می‌کند.» درسوی هم، وزارت فوایدعامه با پافشاری براهمیت پروژه‌ی افغان – ترانس می‌افزاید که با تکمیل‌شدن این پروژه‌ی افغانستان به چهاراهی ترانزیتی درمنطقه مبدل خواهد شد. آگاهان اقتصادی باور دارند که عملی‌شدن این پروژه نقش مهمی در افزایش ترانزیت منطقه‌ای، تسهیل تجارت، کاهش هزینه‌های حمل‌ونقل و تقویت همکاری‌های اقتصادی میان کشورهای منطقه خواهد داشت. همچنین، این راه‌آهن می‌تواند جایگاه ترانزیتی افغانستان را در معادله‌های اقتصادی منطقه تقویت کند. عبدالنصیر رشتیا، آگاه اقتصادی به خبرنگارطلوع نیوزگفت: «بناء این خط می‌تواند سبب وصل شدن کشورهای جنوب آسیا و آسیایی مرکزی شود، افغانستان هم می‌تواند سودی بیش‌تر را ببرد.» پیش‌تر، رییس‌جمهور قزاقستان در نشست شورای‌عالی اقتصادی‌اوراسیا در سنت پترزبورگ پافشاری کرده بود، که برای دست‌رسی به بازارهای جنوب آسیا، خاورمیانه و افریقا، نیاز است راه‌آهن ترانس-افغان گسترش یابد. به‌گفته‌ی او، پشتیبانی مالی بانک توسعه‌ی اوراسیا به سود این پروژه است.

## تلاش‌ها برای کاهش کمبود آب در پایتخت

شرکت دولتی آب‌رسانی و فاضلاب شهری، از ادامه تلاش ها برای رسیدگی به بحران و کاهش کمبود آب در پایتخت اطمینان می‌دهد. به باور این اداره، کار روی شماری از پروژه‌های مهم، به‌ویژه پروژه‌ی انتقال آب از دریای پنجشیر و بند شاه‌توت، جریان دارد و با عملی‌شدن این پروژه‌ها، در چندین ناحیه‌ی شهر کابل آب آشامیدنی برای صدها خانواده تامین خواهد شد. شرکت امارتی آب رسانی و فاضلاب شهری گفت: «کارهای سروی و دیزاین آن تقریبا نهایی است، و درحال حاضر فقط یک شرکت عملا کار را آغاز می‌کند، سروی و دیزاین در وقت کم ممکن است، پروژه‌ی پنجشیر نزدیک به ۵ تا ۶ سال تکمیل می‌شود، بخاطری این‌که درکابل چالش‌های آب بسیار زیاد است، بالای آن بحث شده که تلاش شود درمدت کوتاه ۲ تا ۳ سال به شکل نهایی تمام پروژه تکمیل شود.» در همین حال، آگاهان می‌گویند انتقال آب از دریای پنجشیر می تواند گام مهمی در کاهش بحران کم‌بود آب کابل باشد و نقش پایه‌ای در تامین پای‌دار آب آشامیدنی و پیش گیری از خشک‌شدن منابع زیرزمینی ایفا کند. نجیب‌الله سدید، کارشناس امور آب، در این‌باره گفت: «حوزه‌ی آب‌ریز پنجشیر نزدیک‌ترین و پرآب‌ترین منبع آب به کابل است. بر پایه‌ی مطالعات، سه دریایی مهم در این حوزه جریان دارد: دریای پنجشیر، سالنگ و غوربند. این حوزه می تواند سالانه صد میلیون متر مکعب آب به کابل انتقال دهد که برای تامین آب بیش از سه میلیون نفر در پایتخت کافی است.» با این‌همه، در بسیاری از نقطه های شهر کابل، باشندهای این شهر هنوز هم با کم‌بود شدید آب آشامیدنی روبه‌رواند و برای تامین نیازهای روزمره‌ی خود با دشواری‌های جدی دست‌وپنجه نرم می کنند. این در حالی‌ست که پیش‌تر، سازمان‌ملل‌متحد هُشدار داده بود سطح آب‌های زیرزمینی کابل در جریان یک دهه گذشته تا ۳۰ متر کاهش یافته و اگر این روند جریان یابد، احتمال می‌رود تا سال ۲۰۳۰، آب‌های زیرزمینی کابل خشک شود.



## آغاز اجرای ممنوعیت واردات دوا از پاکستان

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان می‌گوید که بر بنیاد تصمیم و هدایت معاونیت اقتصادی ریاست‌الوزراء، از ۲۰ دلو، به بعد واردات هرگونه دوا از پاکستان به افغانستان ممنوع شده است. به گفته‌ی این وزارت، با کسانی‌که دواها را از راه قاچاق وارد کنند، برخورد قانونی صورت می‌گیرد و دواهای ضبط شده نیز، بر پایه‌ی حکم محکمه، از بین برده خواهد شد. هم‌زمان، اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری افغانستان تاکید می‌کند که این تصمیم می‌تواند پیامدهای مثبت داشته باشد؛ از رشد تولید داخلی گرفته تا جاگزینی دواهای باکیفیت در بازار و ایجاد مسیرهای بدیل وارداتی. اتاق تجارت و سرمایه گذاری در این باره افزود: «وقتی این مهلت تکمیل می شود راه‌های بدیل یا جاگزین‌های مناسب دیگری وجود دارد از جمله این که ما تا حد زیاد سمت تولید داخلی برویم، طرف صنعت و تولید داخلی و اقلام زیاد را که وارد می‌کردیم؛ می‌توانیم در داخل کشور تولید نمایم و حالا نیز به طور عملی چنین چیزی وجود دارد.»در همین حال، حکمت‌الله مسوول یکی از دواخانه‌ها در شهر کابل، می‌گوید کیفیت دواهای تولید داخلی در بسیاری از موردها بهتر از دواهای وارداتی پاکستانی‌ست. او پافشاری می‌کند که برای جلب اعتماد مردم، آگاهی‌دهی گسترده در این زمینه ضروری است. باشندگان پایتخت نیز از کیفیت پایین شماری از دواهای پاکستانی نگرانی دارند و از تصمیم امارت‌اسلامی‌افغانستان برای توقف واردکردن این دواها ابراز خرسندی می‌کنند. پیش‌تر وزارت صحت‌عامه نیز ، از اکمال بازاردوایی کشور اطمینان داده بود؛ آغاز این پایان در بیست‌ویکم عقرب سال جاری، آغاز شد زمانی‌که محترم ملا عبدالغنی برادر، معاون اقتصادی ریاست‌الوزراء، به وزارت مالیه هدایت داد تا ظرف سه ماه واردات دوا از پاکستان را متوقف و از محصول‌گیری آن نیز خودداری کند.



## د حضرت معاذ بن جبل (رض) ملي نظامي اکاډمۍ د اوولسمې دورې په فراغت غونډه کې د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وینا:

الحمدلله و کفی و السلام علی عباده الذین اصطفی اما بعد!

فاعوذ بالله من الشیطان الرجیم

بسم الله الرحمن الرحیم

قال الله تعالی: وَ أَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ وَ مِنْ رِباطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللهِ وَ عَدُوَّكُمْ

د افغانستان اسلامي امارت د ملي دفاع وزارت محترمو مسوولینو، د حضرت ابو عبیده بن جراح (رض) ملي دفاع پوهنتون قوماندانۍ قدرمن مشرتابه او محترمو منسوبینو، د اسلامي امارت د بېلا بېلو ادارو مسوولینو، نوو فارغ سوو ځواکونو، د رسنیو استازو او ټولو محترمو حاضرینو ته!

**السلام علیکم و رحمة الله و برکاته!**

الله تعالی مو عافیت او صحت په برخه لره.

خوشاله یم چې د حضرت ابو عبیده بن جراح (رض) ملي دفاع پوهنتون قوماندانۍ اړوند د حضرت معاذ بن جبل (رض) ملي نظامي اکاډمۍ د اوولسمې دورې په فراغت غونډه کې ګډون کوم.

له هر څه وړاندې ټولو فارغانو ته د دې مهمې دورې د تکمیلولو له امله د زړه له کومې مبارکي وایم او خوښ یم چې د مسلکي زده کړو دا مهمه دوره مو په پوره اسلامي او افغاني روحیه پای ته ورسوله.

**ګرانو فارغانو؛**

دا روښانه ده چې د نظامي اکاډمۍ په تربیتي دوره کې تاسې ته د مسلکي زده کړو ترڅنګ د ملي دفاع، ملي حاکمیت، ځمکنۍ بشپړتیا او سیاسي حاکمیت د اهمیت په اړه هم زده کړه او روحیه درکول سوې ده. مهمه دا ده چې دا روحیه او زده کړه د اسلامي او لوړو افغاني ارزښتونو د ساتنې لپاره په عمل کې ثابته کړئ او د اسلامي نظام او خاورې له لوېشت لوېشت څخه په نره دفاع وکړئ.

د اسلامي نظام او د ګران هېواد د سرلوړۍ لپاره مو پخپلو نیتونو کې اصلاح راولئ، خپل اعمال او اقوال مو خالص د الله تعالی د خوښې او د اسلامي نظام د تقویت لپاره وګرځوئ، تقوا اختیار کړئ او د خپلو کړیدلو او زوریدلو هېوادوالو ډېر خیال ساتئ.

**قدرمنو اوربدونکو!**

د تل په څېر وایم چې د افغانستان اسلامي امارت د اقتصاد محوره سیاســـت په چوکاټ کې په ســـیمه ییـــز او نړیوال مشارکت باور لري. موږ دې ته ژمن یو چې د خپلو اصولو په چـــوکاټ کې له هـــر هېواد سره مناســـب تعامـــل ولرو. د اوږدمهاله ســـیاسي او اقتصادي ګټـــو د خوندي کولو لپاره لازمـــه ده چې هېوادونه د یو او بل ارزښـــتونو او حساســـو حریمونو ته درناوی ولري.

له اقتصـــادي ډګره زېری درکوم چې اســـلامي امارت به د پانګوالو د ملاتړ او تشویق په موخه په راتلونکو څو ورځو کې کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته په نوو سکتورونو کې د پانګونې اندازې ته په کتـــو له یو څخه تر پنځو کلونو پورې بشـــپړ مالیاتي معافیت اعلان کړي چـــې دا به له یوه لوري د نوو سکتورونو د پر پښو درېدو او چټک رُشد سبب وګرځي او له بل لـــوري به د هېـــواد د اقتصـــادي پایې پـــه ګرځولو او خودکفایي کې د پام وړ اغېز ولري ان شاءالله. د صنعت او ســـوداګرۍ وزارت ته جـــدي هدایات ســـوي دي چې د کوچني، متوسط او لوی صنعت لپاره د ځمکو د توزیع پروسه ګړندۍ او لازم امکانات ورته برابر کړئ.

**درنو هېوادوالو!**

د اسلامي امارت سیاســـت کاذب نه دی، نننۍ افغانستان خپلې پالیسۍ پر هغو نهادونو بناء کړې دي چې اساس یې اسلامي شریعت دی او روح و روان یې له هغه څخه سرچینه اخلي. افغانستان نه چا ته ضرر رسول غواړي او نه یې له چا مني. خو که څوک ناولي ارادې ورته لري، نو بیا خپل پور چا ته نه پرېږدي. تاریـــخ ګواه دی چې دا هېواد غوړه ګوله نه بلکـــې د زقوم ونه ده؛ د مُعَمَّرو امپراتوریو مرۍ یې ور ترخې کړې، نوملود ماشومان به یې هېڅکله هضم نه سي کړای.

زه دا غوره ګڼم چې د اســـلامي امارت د ارزښتونو او اصولو په چوکاټ کې هېوادونه د سیاسي او اقتصادي تعامل هڅه وکړي، هغه انرژي او امکانـــات چې د یو او بل په تخریب ضایع کېږي، ښـــه ده چې د یو او بل په ملاتړ او د مشترکو ټکو په پیاوړي کولو مصرف سي.

په پای کـــې د حضرت معاذ بن جبـــل (رض) ملي نظامي اکاډمۍ له محترمو مسوولینو او استادانو څخه ډېره مننه کوم چې په خپله برخه کې په اخلاص خدمت کوي او هیله لرم چې د دغه مهم مســـوولیت اهمیت ته پام خپلو دندو ته لا ډېر متوجې سي.

والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

## د بهرنیو اسعارو بیې

د کابـــل په شهزاده ســـرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکایي ډالر | ؋۶۳٫۶۰ | ؋۶۳٫۶۵ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ؋۲۱۷ | ؋۲۱۷ |
| ۱۰۰۰ | ایراني تومن | ؋۰٫۳۹ | ؋۰٫۴۰ |
| ۱ | اروپایي یورو | ؋۷۵٫۴۴ | ؋۷۵٫۵۰ |
| ۱ | روسي روبل | ؋۰٫۸۲ | ؋۰٫۸۳ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ؋۷۰٫۲ | ؋۷۰٫۲ |
| ۱ | انګلیسي پونډ | ؋۸۶٫۶۱ | ؋۸۶٫۶۸ |
| ۱ | سعودي ریال | ؋۱۶٫۹۶ | ؋۱۶٫۹۷ |
| ۱ | اماراتي درهم | ؋۱۷٫۳۲ | ؋۱۷٫۳۳ |
| ۱ | چیني ین | ؋۹٫۲۰ | ؋۹٫۲۱ |

